مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگر وال
۲۰۲۱/۰۱/۰۶

# په ۱۵ – ۱۶ پېړيو کې د هند د افغاني قبايلو دريځ

## لومړۍ برخه

## (تورې او تېروتنې... يو انتقادي نظر)

له مبارک شاه نه وروسته د خضر خان لمسی محمد شاه د فرید خان زوی دمبارکشا ه وراره او د خضر خان لمسی په تخت کېناست .
د سلطان محمد شاه د سلطنت د کمزورۍ لاملونه ډېر وه: یو دا چې د خلجي سلطان محمود بریدونه وه چې دی یې کمزورۍ کړ. بله دا چې د سلطان محمد شاه ډېر نږدې پلوی ملک بهلول وه چې د جونپور د پاچا خلجي سلطان محمود شرقي په وړاندې لکه غر داسې ولاړ وه .
ولي کله چې د سلطان محمد شاه درباریانو دی د ملک بهلول په وړاندې ولمسوه، ده د یو لیک په ترڅ کې ډېرې سپکې سپورې ورته ووېلې .
پدې کار سره بهلول پرېکړه وکړه چې د خپل واک د غزولو لپاره یو پیاوړی لښکر تیار کړي. کله چې په ۸۴۷ هـ کال سلطان محمد شاه ومړ او زوی یې سلطان علاوالدین پاچا شو. په دغه وخت کې په ټول هند په ځانګړې ډول په شمالي هندوستان کې یو د بل پسې سیمه ییزې واکمنی مینځته راغلې .
د سلطان علاوالدین عالمشاه له مړینې وروسته ډېر سیمه ییزه واکمنان او جاګیرداران په ځانګړې ډول پښتانه د لودي بهلول تر شا ودرېدل .
په دغه وخت کې د عالمشاه په اولاده کې داسې یو څوک نه وه چې د سید خضر خان د کورنۍ واکمنې وساتي .یوازې د عالمشاه زوم جونپور پاچا سلطان محمود شرقي وه چې د بهلول په وړاندې ودرېد. د څو خونړیو بریدونو سره سره بیا هم سلطان بهلول لودي د افغانانو په مټ بریې ته ورسېد .
که څه هم سلطان بهلول د هند په تاریخ کې د هغه مهال یو پیاوړی واکمن ګڼلی شو، ولي بیا هم نوموړي په قبایلي ارزښتونو ډېره ډډه لګوله. نو په همدې بنسټ د ده د ټولواکمنۍ سیمې د یو شمېر درباري سردارانو او قومي مشرانو تر مینځ وېشل شوې وې :

۱ -خان جهان لودي چې د سلطان بهلول سلاکار وزیر و. دی نوموړي ته دومره نږدې وه، کله چې سلطان په ۸۶۷ هـ پنجاب ته لاړ نو د ډیلي واک او ځواک یې لودي قطب خان او خان جهان لودي ته وسپاره .

۲ -شروانی عمر خان د سلطان بل سلاکار وزیر وه چې د قومي مشرتوب تر څنګ زړور، پوه او توریالی شخص وه. د ده په دربار کې د ډېر واک څښتن وه .

۳ -شیخ زاده محمد پرملی (خان خانان) دی نه یوازې په سلطان بهلول ګران وه بلکې د سلطان سکندر په مهال هم چې نوموړی کله له سلطان علاوالدین نه «راپری» په ۸۹۵ هـ ونیوله او په ۸۹۷هـ کې «بیانه» نو د دواړو سیمو واک او جاګیر یې ده ته وسپاره .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همدا راز لواني مبارک خان، لودي درياخان، تاتار خان، يوسف خېل، مېواتی احمد خان او په سلګونو نور قومي مشران او د باور وړ کسان يادولی شو چي د ده په دربار کې د پام وړ ځای درلود .

نه يوازې سلطان بهلول د دربار سردارانو او د قوم مشرانو ته په درنه سترګه کتل، هغوی ته يې جاګيرونه، وسلې او پيسې ورکولې ،بلکې سلطان سکندر هم له قومي مشرانو سره د خپل پلار په څېر په ځمکه کېناستېده هغوی ته به يې سوغاتونه، ډېر اسونه او مالونه ښندل، ان تر دې چي د يو کال خراج به يې ورکاوه او ډېر جاګيرونه .

«سلطان سکندر د قبيلو خلک خورا ډېر نازول... ده له خپلو اميرانو سره د وروروګلوی سلوک کاوه او د دوی ترمخ پر تخت نه کېنېناست.» (۱)

همدا راز يو شمېر نورو تاريخ پوهانو هم په هند کې د افغانانو په قبايلي ژوند ډېر څه ليکلي دي او ان تر دې چي دوی يې نا مدني وګړي بللي دي :

»په ۱۵ او ۱۶ پېړۍ کې افغانانو خپل قبايلي ژوند هېر نکړ، بابر په سياسي ډول غوښتل چي دوی پخلا کړي... خو رېښتيا دا ده چي ده د افغانانو زېږ چلند او کړه وړه چنداني نه خوښېدل او دوی يې کليوالي او غير مدني خلک ګڼل.»(۲)

کومي قومي او خپل مينځي جګړې چي د بېلابېلو قومونو لخوا شوې دي. دا پخپله د قبايلي ژوند غوره بېلګه ده. د پښتنو سياسي نظام ته پخپله سلطان بهلول هم پام ونکړ بلکې ټول پښتانه قومونه يې په هماغه قبايلي دود وپالل ...
همدا لامل وه چي افغانانو د وينو په قرباني په هند کې د افغانانو د حکومت بنسټ کېښود ولې په ډېرې بې پروايي يې له لاسه ورکړ .
«د لوديانو د حکومت لارې چارې ټولې قبايلي وې. د لودي سلطنت لويه کمزوري همدا وه (وګوری افغان سلطنتوں کا عروج و زوال) چي په ډېرې اسانۍ د بابر لخوا له مينځه لاړ .که څه هم سکندر لودي يوڅه برېالی وه، دا ځکه چي هر افغان ته يې امير ويلې، که هغه وزير وه يا فقير... دغو نازونو دوی دغې کچې ته ورسول، چي هر قوم اول خپل ځان او قوم ليده او بيا حکومت ،نو ځکه خو د قومونو تر مينځ جګړو د ملت جوړوني روحيه کمزورې کړې وه.» (۳)

د دغو قومي جوړښتونو له بابته وه چي د هندوستان سياسي نظام ته يې ډېر زيان ورسوه او دغو قومي جنګونو، د حکومت بنسټ ډېر کمزوری کړ. دغې کمزورۍ د سلطان ابراهيم لودي د سلطنت ستنې ولړزولې او د هغه حکومت بنسټ، چي د افغانانو په قرباني سلطان بهلول جوړ کړی وه او سلطان سکندر ساتلی وه د بابر لخوا له مينځه لاړ .

«که څه هم افغانانو په شمالي هندوستان کې ډېر قدرت وموند خو بيا هم قبايلي وګړو خپل قبايلي عادات له ځان سره وساتل.» (۴)

له دې سربېره يو افغان مؤرخ عباس خان سر واني هم کښلي دي «چي په شپاړسمه پېړۍ کې جګړې، لانجې او شخړې د افغانانو غټ خصوصيتونه وه.»(۵)

که څه هم چي يو شمېر تاريخپوهانو د هند افغانان زيږه او تند وګړي ګڼلي دي، ولې يو شمېر پدې اند دي چي سره د دې ټولو خبرو، بيا هم زړه سوی، مهربانه او د ځغم خاوندان دي، رېښتيني دي او جنګيالي وګړي ورته ويلی شو .

ويل کېږي کله چي سلطان بهلول لودي په تخت کېناست، ځو ورځې وروسته له خپلو درباريانو سره د جمعې لمانځه ته لاړ. «ملا فاضل د خطبې ويلو په وخت کې وليدل چي افغانان راغلل نو په عين خطبه کې داسي تبصره وکړه: سبحان الله عجب قوم پيدا شدند نمېداند پيش او دجال اند يا دجال در ايشان باشد... يوه افغان مؤرخ عبدالله دغه کيسه پخپل کتاب کې د دې لپاره را اخستې چي بهلول څومره ځغمناک او مهربان سړی و.»(۶)

د هند په افغانانو کې قومي ځواک دومره پياوړی وه چي پاچا به د دوی په خوښه ټاکل کېده او پاچا به بيا د دوی په خوښه کارونه کول او دوی ته به يې جاګيراو داسي دندې ورکولې چي ترې خوشاله شي .
کله چي بهلول ومړ. يو شمېر قومي مشران راټول شول او پرېکړه يې وکړه چي پاچا وټاکي. پدغو مشرانو کې ځنې په دې ټينګ وو، چي مشر شهزاده باربک په «جونپور» کې پر تخت کېنوي او ځنې نورو هڅه کوله چي لودي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سکندر په ډيلي کې پاچا کړي. که څه هم وروسته دويم شهزاده پاچا شو ولې د دواړو ورونو تر مينځ اختلاف هم له همدغه ځايه پيل شو .

نه يوازې قومي مشرانو او جاګير دارانو د پاچا په ټاکلو کې ونډه لرله، بلکې ډېرې مهمې سياسي پرېکړې هم دا رنګه قومي مشرانو کولې. ډاکټر «ترېپاټي» ليکي چې «د افغانانو ټولواکي له ټبرونو جوړه شوې يوه کانفدراسې وه چې پاچا به يې په سر کې و.»

کله به چې سکندر لودي په تخت ناست وه او خپل ورځني کارونه به يې پر مخ وړل نو بيا به چې قومي مشران د ده دربار ته را ننوتل دی به پورته شو او د دوی د درناوي لپاره به په تخت نه کېناست .او مالياتي سيستم به د دغو جاګيردارانو په خوښه جوړېده، چې هم د دولت شتمني زيان و نه ويني او هم قومي مشران خپه نشي .
دا کار د دې لپاره سلطان بهلول او سلطان سکندر کاوه چې د دوی له شره ځان وژغورې. لکه چې د سلطان ابراهيم د واکمنی په مهال، همدا ډول ستونزې پيدا شوې او د ده په پير کې دغه قومي ځواک د سلطان ابراهيم (۱۵۱۷ – ۱۵۲۶ز) د واکمنۍ لپاره په يوه ستر ګواښ بدل شو .
همدغه قومي مشرانو او جاګير دارانو د سلطان کشر ورور جلال خان را پاڅاوه او په «جونپور» کې په تخت کېناوه .
له بده مرغه چې موږ ډېرې بېلګې د افغانستان له لرغوني تاريخ نه را واخله تر اوسه ياني تر معاصر تاريخه پورې کله چې هر واکمن غوښتي چې د حکومت په چارو کې يو ستر نوښت را مينځته کړي له يو شمېر دوديزو خنډونو سره مخامخ شوي دي. را واخله همدغه ابراهيم لودي غوښته چې دی د ټول ملت پاچا وي نه د څو تنو جاګير دارانو.
ولې همدغو جاګير دارانو نه يوازې د ده واکمني ړنګه کړه بلکې د افغانانو ټولواکمنی ته يې د پای ټکی کېښود .
يوازې جلال خان نه وه چې د سلطان په وړاندې پورته شو بلکې يو شمېر نور هم لکه: اعظم همايون، اسلام خان او ميا بهوا چې د سلطان سکندر نږدې دوست هم وه د بېلګې په توګه يادولی شو .
د پېنتنو د همدغو خپلمينځي جګړو پايله دا شوه چې بابر په پرلپسې توګه په هند بريدونه وکړل او د سلطان نږدې پلويان د ساري په توګه د لودي دولت خان په ځېر بدمرغو تربورانو د بابر په ګټه له ابراهيم لودي سره جګړه پيل کړه او د افغانانو همدغو خونړيو جګړو بابر ته د واک زمينه برابره کړه .
له پنځلسو کالو وروسته يو ځل بيا سوري شېرشاه د افغانانو له لاسه وتلی حکومت يو ځل بيا ټينګ کړ او د لودي بهلول په ځېر يې د افغانانو يوه لويه ټولواکمنی جوړه کړه .
که څه هم سوري شېرشاه د لوديانو په ځېر په لومړي سر کې يو شمېر قومي مشران په جاګيرونو په وسلو او پيسو له ځانه خوشاله کړل ولې ده نه غوښتل چې د لودي بهلول په ځېر دوديزه قومي واکمنی را منينځته کړي. دی پدې هڅه کې شو چې يوباثباته مرکزي حکومت ټينګ کړي.

(نوربيا )


مفتي محمد پا لنپوري تاريخ هند ۱۲۷-۱۲۵ مخونه
عباس خان دبرېټش کتا بتون کې قلمي نسخه
«عباس خان وايي چې شېرشاه افغانانو ته دومره جاګيرونه ورکړل چې په هندوستان کې او هم په روه کې د شتمنی خاوندان شول.»
رشادپوهاند عبد الشکورلودي پېښتا نه ۱۷۸مخ
ډاکټر محمد سليم هندوستان سياسي نظام کا تدريجي ارتقا۲۷۷ مخ
ډاکترمحمد عبد الرحيم په هند کې د افغا نانو تا ريخ ۳۸ مخ
عباس خان د برټش کتا بتون لاسي نسخه۱۱۳ مخ




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ